DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش
۸۸۴
لسم کال - دویمه دوره، ۸۸٤ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹۵۱ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د تلې ۱۱ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۲٤ مه ۲۰۱۰ د اکتوبر ۳ مه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
PROPERTY OF ACKU

تنها نامزدان حامی دولت بـــه دور جدید ولسی جرگه راه خواهند یافت

شماری از وکلای ولسی جرگه، می گویند بیشتر افرادی به دور جدید ولسی جرگه راه خواهند یافت که از حمایت دولت برخوردار اند. یک تعداد ازاین وکلا، یگانه دلیل احتمال ناکامی شان را در انتخابات پارلمانی سال روان، ناشی از حمایت مقامات دولتی، از یک تعداد نامزدان مشخص می دانند. آنها ضمن اینکه نتیجهٔ تلاش های دولت را در ص۳

مهلت به سر رسیده سلاح های تان را تسلیم کنید!



رییس مبارزه با تروریزم وزارت داخله به شرکت های خصوصی امنیتی هشدار داد که این شرکت ها اسلحه و مهمات خود را تحویل دهند.

عبدالغفار سید زاده دیروز در کنفرانسی خبری هشدار داد که اگر شرکت‌های خصوصی امنیتی اسلحه و مهمات خود را تحویل ندهند، با عکس العمل این وزارت رو به رو خواهند شد.

وی در این کنفرانس، صدها قبضه سلاح سبک و سنگین متعلق به یک شرکت خصوصی امنیتی را به خبرنگاران نشان داد.

سید زاده گفت: نیروهای امنیتی افغان این تعداد سلاح را که به ۳۰۰ قبضه می رسد، از یک شرکت خصوصی امنیتی در ولایت "هلمند " ضبط کرده‌اند.

این مقام افغان اقدام اخیر نیروهای امنیتی این کشور مبنی بر جمع آوری اسلحه و مهمات شرکت‌های خصوصی را، هشدار رییس جمهور افغانستان به این شرکت‌ها عنوان کرد.

وی گفت: "حامد کرزی " رییس جمهور افغانستان یک ماه قبل دستور لغو تمام شرکت‌های امنیتی خصوصی را صادر کرد.

رییس مبارزه با تروریزم وزارت داخله افزود: به شرکت های امنیتی خصوصی چهار ماه مهلت داده شد، تا سلاح‌های خود را به این وزارت تحویل دهند.

سید زاده تصریح کرد: از اسلحه و مهمات ضبط شده در اردوی ملی و پولیس ملی افغانستان استفاده خواهد شد.

در حال حاضر، بیش از ۵۰ شرکت خصوصی امنیتی داخلی و خارجی در افغانستان فعالیت می کنند.

درې نور بهرني سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشرۍ نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د افغانستان په بېلا بېلو سیمو کې د خپلو درېیو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

دغه خبر په کابل کې د ایساف ځواکونو د مطبوعاتي دفتر له خوا د تلې پر ۱۰مه په خپره شوې خبرپاڼه کې ورکړل شوی دی.

سرچینې زیاته کړې، چې دوه سرتېري یې ورمه ورځ د افغانستان په ختیځ او درېیم یې په سویل کې وژل شوی دی.

ایساف په خبرپاڼه کې د وژل شویو سرتېرو هویت او د پېښې کره ځای نه دی په ډاګه کړی.

د یادونې وړ ده، چې د روان زېږدي کال له پیل راهیسې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د وژل شویو بهرنیو سرتېرو شمېره ۵۵۱ تنو ته ورسېده. په دې وژل شویو سرتېرو کې یې ۳٦۴ امریکایي، ۹۴ بریتانوي او پاتې ۹۳ یې د ایساف اړوندو نورو هېوادونو سرتېري وو.

د خواجه غار په نښته کې د طالبانو او پولیسو درنه مرګ ژوبله

د تخار په خواجه غار ولسوالۍ کې د یوې نښتې په ترځ کې د یوه قوماندان په ګډون ۵ وسلوال طالبان او دوه پولیس وژل شوي دي. د تخار د والي ویاند فیض محمد توحیدي د تلې پر ۱۰مه وویل، چې دغه نښته پرون مازیګر پیل او تر ماښام ناوخته پورې یې ادامه درلوده. هغه زیاته کړه، چې د وسلوالو طالبانو یوې ډلې د خواجه غار ولسوالۍ د زرد کمر پر کلي برید کړی و او غوښتل یې دغه کلي ونیسي. د توحیدي په وینا، وسلوال طالبان په سیمه کې د عامه ساتنې د ځواک او پولیسو له سخت مقاومت سره مخامخ او تېښتې ته اړ کړای شول. دی وایي، چې په دې نښته کې د نصرت الله په نامه د وسلوالو طالبانو د یوه قوماندان په ګډون پنځه تنه ووژل شول او ۱۲ نور یې ټپیان شوي دي. د والي ویاند دغه راز په دې نښته کې د دوو پولیسو د وژلو او دوو نورو د ټپي کېدو خبر هم ورکړ. د خواجه غار ولسوال ملا عمر پژواک اژانس ته وویل، چې یو وسلوال طالب د تېښتې پرمهال یوه کور ته ننوتلی و او غوښتل یې موټرسایکل وتښتوي، چې د کور د مېرمنې له مقاومت سره مخ شو. نوموړي زیاته کړه، چې وسلوال طالب د دغه کور مېرمنه ووژله او پر موټرسایکل له کلي څخه وتښتېد. داجمل په نامه د زرد کمر کلي یوه اوسېدونکي وویل، چې شاوخوا ۵۰ وسلوالو طالبانو یې پر کلي ۳مخ

پس از کشته شدن ۴ سرباز گرجی در افغانستان؛

ناتو به گرجستان قول عضویت داد

سربازان گرجستان از منافع این کشور دفاع می کنند

منشی عمومی ناتو اعلام کرد: ناتو همچنان به عضویت گرجستان در این نیروها متعهد است. این در حالی است که نیروهای نظامی گرجستان روز پنجشنبه شاهد سنگین ترین تلفات خود در افغانستان بودند.

روز پنجشنبهٔ گذشته، ۴ سرباز گرجستانی در یک عملیات در افغانستان کشته شدند.

وزارت دفاع گرجستان اعلام کرد: این سنگین ترین تلفات نیروهای گرجی از زمان استقرار آنها در افغانستان است.

سربازان گرجستانی در اوایل سال جاری میلادی در افغانستان مستقر شدند.

آندرس فوگ راسموسن، منشی عمومی ناتو در سفر به پایتخت گرجستان قول داد که این کشور یک روز به عضویت ناتو درآید.

وی همچنین همکاری‌های نیروهای ص۳

رییس جمهور نظامی پوش به پاکستان باز می گردد؟

تهیه: عمر جلالی– پرویز مشرف رییس جمهور سابق پاکستان باز سودای بازگشت به قدرت را در سر دارد.

پرویز مشرف رییس جمهور سابق پاکستان که همگی وی را در جامهٔ نظامی پوشی دیکتاتورماب به یاد دارند، باز سودای بازگشت به قدرت را در سر دارد. درست در روزهایی که دولت آصف علی زرداری رییس جمهور فعلی پاکستان لحظات افول خود را پشت سر می گذارد و نشریهٔ معتبر فارین پالیسی ادعا می کند که پول مالیات دهنده گان امریکایی در پاکستان به جیب طالبان می رود، مشرف از بازگشت به قدرت سخن می گوید. البته این بار برخلاف آخرین باری که وی با کودتا نظامی قدرت را در دست گرفت، نیست. این بار قرار است که آقای مشرف با کت و شلواری بر تن یک حزب سیاسی تشکیل دهد و مانند تمامی احزاب در انتخابات شرکت کرده و رای جمع کند. روزی که مشرف قدرت را در پاکستان واگذار کرد، بسیاری ادعا می کردند که روند بیرون انداختن وی از بازی بسیار ناجوانمردانه بوده است و بخصوص آنکه واشنگتن هم به وی پشت کرد. در همان زمان هم کم نبودند، تحلیلگرانی که با استناد به

تاریخ تاکید می کردند که پاکستان را تنها نظامی پوشی در قد و قواره مشرف می تواند، جمع و جور کند. شاید اکنون که پاکستان با چند میلیون آواره ناشی از سیل روبه رو است و شبه نظامیان از شمال به جنوب شیطنت می کنند، دل پاکستانی ها برای مشرف عصبانی تنگ شده باشد.

به گزارش بی بی سی، مشرف این روزها در لندن سخت مشغول فعالیت های سیاسی است، تا زمینه را برای بازگشت به کشور و از کانال انتخابات ۲۰۱۳ هموار سازد. درست سه روز پیش بود که برخی رسانه های داخلی پاکستان از دخالت اردو در سیاست و نکوهش زرداری توسط لوی درستیز جنرال اشفق کیانی خبر دادند. این بار هم مشرف بر همین مساله انگشت می گذارد و می گوید: اردو باید در خارج کردن پاکستان از گرفتاری‌های اقتصادی و درگیری‌های سیاسی دخالت کند. هم اکنون مشکلات در پاکستان پس از وقوع سیل مرگبار افزایش یافته است. ۳مخ

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

افغانستان و تصادم منافع

روابط کرزی با غرب همچنان به مرزهای باریک و تشنج قرار دارد. رییس جمهور کرزی دیروز باردیگر به گونۀ تلمیحی غرب را مورد انتقاد قرار داد و خاطر نشان ساخت که نیروهای خارجی برای تامین منافع خود به این کشور آمده اند، نه برای تامین منافع افغانستان.

وی که در مراسم اعطای درجۀ جنرالی برای افسران اردوی ملی صحبت می کرد، افزود: "هر کشوری، هر عنصر خارجی به دنبال منفعت ملی خود است. روزی شاید برسد که همین جامعۀ جهانی که امروز به ما کمک می کند، دیگر در افغانستان منفعتی برای خود نبیند و طوری که در یک لحظه رفتند، باز هم بروند."

این یک واقعیت انکارناپذیر است که حضور هزاران نیروی خارجی و غربی در افغانستان و هزینۀ هزاران میلیارد دالر مالیات دهنده گان آنان در این کشور، بدون تحقق اهداف ویژه و رسیدن به منافع کشوری آنان ممکن نیست، آنان یک سنت را که در افغانستان هزینه می کنند، ده ها هدف و منفعت زیر آن پنهان می باشد. عساکر ناتو و امریکایی که از هزاران فرسنگ دورتر در این نقطه جابه جا شده اند، قربانی می دهند، تلفات سخت مالی و جانی را متحمل می شوند، تنها به خاطر بهبودی آیندۀ افغانستان و افغان ها نیست، بلکه در کنار این همه سروصداهای کلیشه یی که در رسانه ها صورت می گیرد که امنیت و ثبات، انکشاف و بازسازی افغانستان سرخط آنها قرار می گیرد و صحنۀ ظاهری بازی را تشکیل می دهد، اهداف و منافعی فراتر نیز وجود دارد که این همه استراتیژی ها برای حصول آن ساخته می شود و این همه راهکارها و تلاش ها به خاطر دستیابی آن صورت می گیرد. در سلسلۀ اهداف و مرام های بیرونی، بیش از همه اهداف طرف های خارجی و قدرتمند مطرح است که در ارتباط اوضاع افغانستان حرف نخست از آن آنان می باشد.

به هر حال، این حقایقی است که همواره گفته شده و در راستای آن بحث های گسترده صورت گرفته است، اما اکنون که آقای کرزی به آن می پردازد بسیار دیر است. از سوی دیگر، چیز مهم دیگری که در این مورد مطرح است، این است که دولتمردان ما به شمول آقای کرزی چرا در گذشته نتوانستند، از حضور گسترده و همه جانبه غرب به نفع کشوری خود استفاده نمایند. راهکارهای مناسبی میسر بود که مقام ها می توانستند و اکنون نیز می توانند، از این حضور پررنگ غرب و جامعۀ جهانی در افغانستان به نفع کشور و مردم خود استفاده کنند، اما اینکه آنان نتوانستند، در طول این مدت دراز نه ساله به این مامول جامه عمل بپوشند، و در تمام مراحل این دوره، تنها در راستای تامین منافع یک طرفه گام برداشته شد، این هم ناکامی و ناکارآمدی دستگاه دیپلوماسی افغانستان را به نمایش می گذارد. اینک آقای کرزی، حال می گوید که خارجی ها تا تامین منافع شان با ما خواهد بود و بس، این گفته ها دربعد دیگر، انداختن بار ملامتی بر دوش دوستان غربی است، آقای کرزی با این گفته ها، در حقیقت در تلاش است، تا باردیگر با اغوای افکار عامه، چنین وانمود سازد که نابسامانی ها و نارسایی های موجود در کشور، همه محصول دست های پیدا و پنهان بیرونی است و دولت افغانستان و دولتمردان آن در این راستا به اصطلاح هیچ گونه مسوولیت ندارند، توجیهی که به هیچ صورت نمی تواند، گناهان آشکار و پنهان دولتمردان ما را کفاره نماید و دوسیه های بزرگ فساد و ناکارایی های آنان را از پیش چشم و حداقل ذهن ملت دور سازد.

د ولسمشر ژړا

هجرت الله اختیار

څو ورځې مخکې مې په بي بي سي_ پښتو ویبپاڼه کې راپور ولوست، چې (هره وېشتل شوې گولۍ زموږ د دښمنانو په گټه ده) دا خبر افغان ولسمشر ښاغلي حامد کرزي د زده کړې نړیوالې ورځې په مناسبت جوړې شوې غونډې ته کړې وه. ولسمشر حامد کرزي ددې خبرې تر څنگ یو ځل بیا د دولت پر وسلوالو مخالفینو غږ وکړ چې (وطنواله! د نورو د گټو لپاره خپله خاوره مه بربادوه. د نورو د گټو لپاره دې خلک مه وژنه، د نورو د گټو لپاره دې ښوونځي مه تړه. او افغان حکومت هم باید په ښه جدیت، په ښه وطنپالنې، د هغو حقیقتونو په درکولو چې نن موږ پرې پوهېږو، زموږ خاورې ته د سولې د راوستو لپاره هر څه زر او هر څه په کلکه اقدام وکړو.)

دا لومړی ځل نه دی چې ښاغلی کرزی د دولت پر وسلوالو مخالفینو غږ کوي؛ بلکې له دې دمخه هم په ډېرو دغسې ورځو جوړو شویو محفلونو او ناستو کې ښاغلی کرزی خپل دغه ډول غږونه تکراروي؛ خو له دې غږ سره یې یوه بله خبره هم اضافه کړې ده او هغه دا چې (افغان حکومت هم باید په ښه جدیت، په ښې وطنپالنې، د هغو حقیقتونو په درکولو چې نن موږ پرې پوهېږو، زموږ خاورې ته د سولې د راوستو لپاره هر څه زر او هر څه په کلکه اقدام وکړو.) دا جملې او الفاظ خو په ښکاره ساده دي؛ خو که په سیاسي لحاظ د یو ولسمشر د الفاظو په توگه ورته وگورو؛ نو بیا پر هر لفظ او هرې جملې یې ډېرې تبصرې کېدای شي او په اصطلاح د هر یو تر شا یو عالم نورې خبرې هم پټې دي.

که پورته جملې په غور ولولو؛ نو ښاغلي کرزي په لومړۍ جمله کې ویلي دي، چې (افغان حکومت باید په ښه جدیت ...) له (ښه جدیت) څخه موخه څه شی کېدای شي؟ مخکې مې یاده کړه چې دا د یو هېواد د ولسمشر د خولې الفاظ دي چې د خپل حکومت لپاره یې کاروي. یانې هماغه حکومت چې خپله ښاغلي کرزي جوړ کړی باید تر دې وروسته په ښه جدیت (یانې تر دې دمخه یې د سولې په راوستو کې جدیت نه درلود)، په ښې وطنپالنې سره (یانې تر دمخه یې وطنپالنه شاته غورځولې وه او دې ټکي ته یې پام نه کاوه)، د هغو حقیقتونو په درکولو سره چې نن موږ پرې پوهېږو (یانې دا حقیقتونه همدا نن ښاغلي کرزي درک کړي دي او تر دې دمخه پرې نه پوهېده) زموږ خاورې ته د سولې د راوستو لپاره هر څه زر (چې تر دې دمخه د سولې راوستل په لوی لاس ځنډول شوي دي) او هر څه په کلکه (چې تر دې دمخه د سولې لپاره ټول اقدام سست وو او کلک نه وو) اقدام وکړو. ما مخکې یاده کړه چې ښاغلي کرزي تر دې دمخه هم پر خپلو وسلوالو مخالفینو د سولې غږونه کړي دي؛ خو له هغو غږونو سره به یې چې کله د سولې خبره غوټه کوله؛ نو بیا به یې دغه پورتنۍ جملې، خبرې او الفاظ د گاونډیو هېوادونو په ځانگړې توگه پاکستان لپاره کارول، چې پاکستان باید په جدیت، ایمانداری او ... دا او هغه وکړي؛ خو نن ښاغلي کرزي یو لړ حقیقتونه درک کړي دي او پر دې پوه شوی چې د سولې خبرې یې له خپلې ادارې نه خرابې دي. ښاغلي کرزي دا حقیقتونه درک کړي دي چې په خپله اداره او په خپل څنگ کې یې یو شمېر کسان داسې شته چې دده د حکومت د بدنامۍ او د سولې لپاره د هڅو په شنډولو کې خپل خیر گوري.

د ښاغلي کرزي له دې خبرو دا ډول بوی هم راځي چې هغه په نړیوالې ټولنې او خپلو امریکایي دوستانو هم بې باوره شوی دی. ښاغلي کرزی چې په افغانستان کې د هغوی کړنو ته گوري نو د مخالفینو هغه تصورات ورته حقیقتونه ښکاري چې د دوی په راتلو یې درلودل. ښاغلي کرزي دا په ډېره ښه توگه درک کړې ده چې په هېواد کې شته بهرني پوځیان ورځ په ورځ څومره له هغو موخو او هدفونو نه لرې کېږي، کومې چې د دوی د راتلو پر مهال متصورې وې. هغه پر دې پوه دی چې په سویل او ختیځ کې جگړه ولې پای نه مومي. هغه دا حقیقت ډېر ښه درک کړی دی چې په دغو سیمو کې د جگړې یوازینی لامل د دولت د وسلوال مخالفین نه دي. هغه دا حقیقت درک کړی دی چې په سویل کې د ښوونځیو تړل تر شا څومره نورې معاملې او خبرې لري؛ ځکه اړ کېږي چې پر خپلو وسلوالو مخالفینو غږ وکړي چې وطنواله! د نورو د گټو لپاره دې خپله خاوره مه بربادوه، د نورو د گټو لپاره دې خپل خلک مه وژنه او د نورو د گټو لپاره دې خپل ښوونځي مه تړه.

هغه حقایق چې ښاغلي کرزي درک کړي دي او پرې پوهېږي، فکر کوم نور څه نه دي، همدا دي چې دلته د روانې جگړې قربانیان یوازې پښتانه دي. په سویل کې پښتانه وژل کېږي، د پښتون کور ورانېږي، د پښتون ښوونځی تړل کېږي، په شمال کې هم په هغو ولسوالیو کې چې دا بدمرغه پښتانه استوگن دي، پر هغوی هم دغه حال دی. هلته هم د پښتنو مشرانو د وژنې لړۍ روانه، د پښتنو د ښوونځیو د تړلو پر پلانونو کار کېږي، هلته هم پښتانه درپه دره دي. په ختیځ او سویل ختیځ کې هم دغه حال دی. کله چې ښاغلی کرزی پر دغومره ډېرو حقیقتونو پوهېږي، نو پوښتنه دا ده چې ولې د خپلې ادارې او نظام د لومړي ۳مخ

شورای عالی صلح چه خواهد کرد؟

نویسنده: احمد ارشاد خطیبی

اعضای شورای عالی صلح پس از چند ماه از تشکیل آن، سرانجام روز سه شنبه۶ میزان، توسط وحید عمر سخنگوی حامد کرزی رییس جمهور افغانستان در یک نشست خبری اعلام گردید.

آقای عمر گفته است، مجموع اعضای این شورا، ۷۰ تن بوده که ۶۸ تن آن، انتخاب شده و دوتن دیگر آن از جمع اهل معارف انتخاب خواهند گردید.

اعضای شورای عالی صلح را شماری از رهبران جهادی، افراد وابسته به حزب اسلامی، علما، چندتن از افراد بلند پایۀ رژیم طالبان وبرخی شخصیت های مستقل سیاسی تشکیل می دهد.

همچنین شماری از زنان فعال در عرصه های سیاسی و اجتماعی هم در جمع اعضای شورای عالی صلح معرفی شده اند که این اقدام بنوبه خود مثبت ودر خور ستایش است و نشانگر توجه دولت به نقش زنان در تامین صلح در کشور می باشد.

در ترکیب این شورا افراد بلند پایه یی از اقوام و ملیت های مختلف در افغانستان شامل هستند.

از سوی دیگر، افرادی از جریانات سیاسی تاثیر گذار کشور هم در این شورا عضویت دارند.

در ترکیب این شورا نیز نام افرادی هم به چشم می خورد که در انتخابات ریاست جمهوری سال گذشته از حامیان اصلی آقای کرزی بودند، اما پس از پیروزی، بر سر تقسیم قدرت با هم سازش نکردند و میان آن ها و تیم کرزی در ارگ ریاست جمهوری شکاف عمیقی ایجاد شده بود.

اقای کرزی خواسته است، با این اقدام بار دیگر تمایلش را نزدیکی با آنان نشان داه است.

اما اینکه شورای عالی صلح چه خواهد کرد و تا چه میزانی بر تامین صلح و ثبات موثر است، بستگی به چند نکتۀ اساسی دارد:

۱- هنوز اختیارات و صلاحیت های شورای مذکور معلوم نیست، گفته می شود که به زودی صلاحیت های شورای عالی صلح از سوی رییس جمهور مشخص می شود. باید منتظر ماند که در چه حوزه ها و با چه امکاناتی به شورا صلاحیت کار داده می شود و همچنین اعضای شورای تا چه میزانی برای پیشبرد و ظایف شان تلاش می کنند. اگر صلاحیت های آن، مانند صلاحیت های کمیسیون تحکیم صلح باشد نمی توان به اهداف بلندی در راستای صلح وثبات دست یافت.

۲- هنوز هم رییس و اعضای اجراییۀ شورای عالی صلح مشخص نیستند، تجربه نشان داده است که در کشور ما چنین نهادها همواره از ناحیۀ گزینش رهبری دچار آسیب جدی شده است.

وقتی که بحث گزینش رهبری مطرح می گردد، مسایلی چون قوم، زبان و مذهب معیار قرار می گیرند وبه استعدادها و تجربیات توجه کمتر می شود.

گفته شده است که در نخستین جلسۀ شورای مذکور رهبران انتخاب می شود. باید منتظر ماند که چه کسی رهبر انتخاب می شود و با چه انگیزه ص۳

ACKU

پاکستان که ...

پاکستان له خپلې جوړېدا راهيسې له افغانستان سره وران دی. د دې کار لوی لامل به د افغان حکومت له خوا د پښتونستان د ازادۍ نارې سورې او له هند سره د ډېر نژدېوالي مساله وي. جالبه دا ده، چې د سردار محمد داوود خان پښتو نه وه زده؛ خو د پښتونستان نارې يې وهلې. پاکستان د دې لپاره چې د افغانانو له شره ځان خوندي کړي، په کوزه پښتونخوا کې يې ګڼې ديني مدرسې جوړې کړې، چې په پښتنو کې د ملتپالنې روحيه کمزورې او پر ځای يې د اسلامي اخوت مفکوره پياوړې کړي. له بلې خوا دغو مدرسو د کشمير د جګړو لپاره له سرونو تېر وړيا جنګيالي برابرول. پاکستان وروسته بيا د جهاد په کلونو کې ډېره هڅه وکړه، چې افغانان دې د وطن نوم وانه خلي؛ بلکې يوازې د جهاد او اسلام شعارونه دې ومني. په دې توګه په مجاهدينو کې د وطنپالنې روحيه دومره کمزورې شوه، چې د آی اس آی په وينا به يې د خپل هېواد سړکونه، پلونه، بندونه، د برېښنا متې، ښوونځي او هره ابادي ورانوله. د پاکستان تمه د مجاهدينو حکومت ته وه؛ خو څرنګه چې استاد رباني او ملګرو يې روسيې، ايران او هند تر پاکستان غوره وګڼل؛ نو پاکستان هم ورته د طالبانو بلا جوړه کړه. طالبان که څه هم په دې مشهور دي، چې اکثر پښتانه دي؛ خو له دوی سره نه د پښتو او پښتنو او نه د وطن غم دی. دوی ته خپله ايډيالوژي تر هر څه مهمه ده. اوسمهال پاکستان که له يوې خوا له طالبانو سره د مرستې له لارې افغان حکومت ضعيفوي، له بلې خوا په اقتصادي ډګر کې هم له افغانانو سره تربګني کوي. کله چې د افغانستان د مېوو فصل رسېږي، پاکستان ګمرکي ماليه پرې لوړوي او زموږ مېوې په باغونو کې خوسا کېږي.

ايران د تاريخ له مسخ کولو رانيولې زموږ د علمي شخصيتونو او تاريخي وياړونو تر خپلولو پورې هره چاره کوي. د افغانو ملتپالو له خوا د ګرګين وژنه او د اصفهان نيونه د ايران حکومتونه د غچ اخيستنې په اور وريت کړي دي. ايراني حکومتونو که د افغان - انګرېز په شخړو کې له انګرېزانو سره لاس يو کړی و، د جهاد په کلونو کې يې هم له شوروي اتحاد سره د ملګرتوب تار ځغلولی و. هم يې د جهاد په نامه د خپلو ګوډاګيو ډلې پاللې او هم يې له برېژنيف سره انډيوالي کوله. د رباني په حکومت کې د افغانستان د تجزيې طرحه هم د ايران حکومت جوړه کړې وه، چې په دې پلان کې له هراته رانيولې تر غزنې پورې د افغانستان ډېره لويه برخه به د غرجستان په نامه د ايران پلوو هزاره ګانو حکومت ته رسېدله. طالبان که نور هر څه وو، وو به؛ خو دومره يې وکړل، چې د افغانستان د تجزيې خوبونه يې په ايرانيانو حرام کړل. اوسمهال ايران طالبانو ته وسلې ورکوي، ځانمرګي ورته روزي او خپل هر ګوډاګي تنظيم ته ټلويزيون او اخبارونه چلوي او لويې مدرسې ورته جوړوي. ويل کېږي چې ايران کرزي ته هم هره مياشت په منظمه توګه داسې بې خرتې پيسې ورکوي، چې کرزی يې په خپله خوښه مصرفوي او څوک ورنه د لګولو سند هم نه شي غوښتی؛ ځکه چې دا هوايي پيسې دي. ښايي همدا وجه به وي، چې د کرزي حکومت د ايران د مداخلو په وړاندې چوپه خوله پاتېږي. که څه هم چې ايران د افغان سوداګرو لپاره د چا بهار له بندر څخه د کار اخيستنې وړانديز کړی دی، چې د کرچۍ او ګوادر د بندرونو ځای نيولی شي؛ خو د اقتصادپوهانو په نظر افغانستان بايد هېڅکله ځان په يوه ملک پورې ونه تړي. که افغانستان له کراچۍ بندر څخه خپل کار و بار چابهار ته ولېږدوي، سبا به د ايران حکومت دغه بندر د فشار د وسيلې په توګه وکاروي.

پوښتنه دا ده چې موږ بايد څه وکړو؟

دا خو جوته ده چې ايران او پاکستان دواړه راسره تربګنې لري؛ خو موږ ته به د چا دوستي په ګټه وي. زما په نظر له پاکستان سره مو مشترک اړخونه نسبتاً ډېر دي. که افغانستان د پاکستان د محصولات لپاره ښه بازار دی او منځنۍ اسيا ته د پاکستان د ننبلولو ظرفيت لري، پاکستان هم زموږ د کرهنيزو محصولاتو لپاره ښه بازار او د ترانزيت غوره لاره ده. پاکستان کې سنيان اکثريت دي او په افغانستان کې هم. پاکستان زموږ د هېواد د لږکيو تر شا نه دی ولاړ. حال دا چې ايران د مذهبي لږکيو او ژبنيو لږکيو ملاتړ کوي، چې دغه ملاتړ زموږ په چارو کې له مداخلې او توطيې څخه پرته نه شي کېدای. ايران د خپل نفوذ د خوندي کولو لپاره مذهبي کړنلاره مخ ته وړي، چې دغه چاره به يې زموږ په زيان تمامه شي؛ خو پاکستان داسې چارو ته ضرورت نه لري. له بلې خوا پاکستان ډيموکرات نظام لري او موږ هم له دې نظره د ايران له حکومته توپير لرو، چې پر ايډيالوژۍ ولاړ نظام په کې چلېږي. د پاکستان د مداخلې لامل هغه وېره ده، چې له افغانستان څخه يې لري؛ خو د ايران مداخله تعرضي بڼه لري. پاکستان او افغانستان دواړه غرب ته نږدې ملکونه دي؛ خو ايران غربي ضد سياست چلوي. د پوهې او تخنيک له نظره پاکستان چې پرانيستی نظام لري، د وخت معاصره پوهه يې په پوهنتونونو کې تدريسېږي؛ خو په ايران کې د ايډيالوژۍ سيوری په هره پوهه باندې خور دی؛ نو که پاکستان سره دوستي وکړو، زموږ محصلان به د پاکستان په پوهنتونونو کې د زده کړې چانس پيدا کړي. له ترکمنستان څخه د ګازو د نل ليکې پروژه د افغانستان او پاکستان دواړو په ګټه ده؛ خو ايران ورسره ځکه مخالف دی، چې بديل به يې د ايران له لارې ترکيې ته ځي.

په دې توګه وينو چې له پاکستان سره دوستي مو د ايران په پرتله په ګټه ده. که چېرې زموږ دولت هڅه وکړي چې له پاکستان سره خپلې ستونزې هوارې کړي، د اطمينان فضا رامنځته کړي او ورسره شريک اړخونه وپالي، دا به د دواړو هېوادونو په ګټه وي. زموږ حکومت له ايران سره داسې مشترک اړخ ته پام کوي، چې زموږ په لږکيو پورې اړه لري؛ خو له پاکستان سره د افغانانو د اکثريت مشترکات له ياده باسي.

د ولسمشر ...

کس په توګه ورته حل لارې نه ګوري، ماناولې يې په اړه جدي اقدام نه کوي، که نه په دې لړ کې له هغه پورته هم څوک شته چې مخه يې نيسي؟ زما په نظر اصل خبره دا ده چې نړيوال هم د ښاغلي کرزي په خوله پياز نه خوري او هغه څه کوي چې خپله يې خوښه وي، هغوی تل هڅه کړې او کوي يې چې په خړواوبو کې خپل کبان ونيسي. د ښاغلي کرزي تر څنګ ناست ياران يې هم ورسره اخلاص نه لري او ګاونډيان خو هسې هم زموږ ازلي دښمنان دي. زما په اند پر ښاغلي کرزي ټولې لارې بندې دي، د هغه زړه له يو عالم خبرو ډک دی؛ خو داسې څوک نشته چې ورته يې تش کړي. هغه چې کله دغسې عوامو غونډو ته د وينا کولو پر مهال ودرېږي، نوزړه يې وي چې هر څه په ډاګه او په ښکاره توګه ولس ته ووايي؛ خو بيا چې د سياست او ډيپلوماسۍ غوښتنو ته ګوري، چې د يو ولسمشر په توګه يې له هغه څخه لري؛ نو خبرې لفافوي کړي او له مسايلو څنګزنی تېر شي؛ خو د هغه احساسات په څپو شي، زړه يې ورسره ياري نه کوي او په عوامي غونډو کې يې له سترګو اوښکې راشي، په ژړا شي، خپلو اوښکو ته دسمال و نيسي او خبرې يې پرې شي، لکه چې په دغې ناسته کې يې هم وژړل او سترګو ته يې دسمال ونيو. سمه ده چې دې ژړا ته به د هغه مخالفين ډول ډول نومونه ورکوي؛ خو که موږ ورته د يو ولسمشر د ژړا په توګه وګورو؛ نو له همدې څخه هم د هغه بې وسي، بې کسي او مجبوريت ښه تراپه ډاګه کېدای شي.

رييس جمهور نظامی پوش به ...

پرويز مشرف ۶۷ ساله که به دنبال کودتا در سال ۱۹۹۹ قدرت را در دست گرفت، در سال ۲۰۰۸ در بحبوحهٔ اعتراضات سراسری در پاکستان استعفا داد. حزب جديد مشرف "ليگ تمامی مسلمانان" نام دارد. وی در اين حزب نيز، به دنبال واگذاری برخی اختيارات به ارتش است.

همزمان با اعلام اين خبر، فارين پاليسی از فساد اقتصادی در پاکستان می نويسد: بر اساس گزارش مفتش عمومی آژانس امريکا برای توسعهٔ بين‌المللی (USAID)، يک شرکت مقاطعه کار مهم امريکايی در افغانستان ميليون‌ها دالر از بودجهٔ ماليات دهنده گان امريکايی را به شکل رشوه يا پول محافظت، به شورشيان طالبان پرداخت کرده است. گفته می‌شود، اين پول توسط يک شرکت عمرانی امريکايی که در مناطق خطرناک جنگی افغانستان دست به انجام پروژه‌های عمرانی می‌زند، به طالبان پرداخت شده است. نماينده گان افغان اين شرکت در جلال آباد نيز، هم اکنون تحت بازجويی به اتهام مطالبه حق حساب از کمپنی‌های افغانی در بدل امضای قرارداد با USAID هستند. در بررسی‌های انجام شده هيچ نشانه‌يی مبنی بر سوء استفاده از مبالغ اين شرکت جهت پرداخت به طالبان و ساير افراد در بدل حفظ امنيت يافت نشد.

با اين وجود، مقام های شرکت امريکايی در خصوص اخاذی چند ميليون دالری طالبان در بدل حفظ امنيت کارکنان شرکت ابراز نگرانی کردند و اعلام نمودند، اين احتمال وجود دارد که ۵/۲ ميليون دالر در سال ۲۰۰۹ توسط کارکنان افغان به طالبان پرداخت شده باشد.

ناتو به گرجستان قول عضويت ...

گرجی در افغانستان را مورد تحسين قرار داد.

وی در يک کنفرانس مطبوعاتی مشترک با ميخائيل ساکاشويلی، رييس جمهور گرجستان اظهار داشت: ما قدر دان تعهد حايز اهميت گرجستان به عمليات های ما در افغانستان هستيم، ما بسيار قدردان اين همکاری می باشيم.

راسموسن افزود: من می‌توانم، به شما اطمينان ببخشم، ناتو هنوز به طور قاطع بر موضع خود مبنی بر تعهد به عضويت گرجستان در نيروهای ناتو ايستاده است. موضع ما تغيير نکرده، گرجستان زمانی که معيارهای لازم برای عضويت را کسب کند به عضويت ناتو درخواهد آمد. رهبران ناتو در نشست سال ۲۰۰۸ در بخارست موافقت کردند، گرجستان و اوکراين به عضويت ناتو در آيند. اما در عين حال اعلام نمودند، اين دو کشور بايد برای عضويت شرايطی را کسب کنند.

براساس گزارش خبرگزاری فرانسه، ساکاشويلی اظهار داشت: گرجستان نيز، همچنان متعهد به عضويت در ناتو است.

وی افزود: ما از تلاش برای رسيدن به اروپا دست برنمی داريم. ساکاشويلی در حالی که برای خانواده های سربازان قربانی در افغانستان پيام همدردی می‌فرستاد، اظهار داشت: سربازان گرجستان از منافع اين کشور دفاع می‌کنند. وی خاطرنشان کرد: اين يک اشتباه بزرگ است که ما منافع گرجستان را تنها در داخل کشور تعريف کنيم، در حالی که مجادلات سياسی جهانی برعليه ما در جريان است. ما دارای منافع بين‌المللی هستيم و از طرفی دارای متحدان و دوستانی در خارج از کشور می باشيم.

وزارت دفاع گرجستان با صدور بيانيه‌يی اعلام کرد: ۴ سرباز گرجستانی در نتيجهٔ انفجار بم در افغانستان کشته شده‌اند.

شورای عالی صلح چه خواهد ...

و ميکانيزمی امور را به پيش می برد.

۳- هنوز هم معلوم نيست که مشخصاًامريکا وکشورهای غربی در برابر اين شورا چه موضعی دارند. آيا از اين نهاد حمايت می کند و يا اينکه نسبت به فيصله ها و ترکيب آن بی باور هستند. شورای صلح اگر حمايت غرب را نداشته باشد، با مشکل جدی رو به رو خواهد شد زيرا طرف اصلی مذاکره با مخالفان مسلح دولت افغانستان، غرب بخصوص امريکا می باشد.

۴- پاکستان کشوری است که بيشترين نفوذ را بر طالبان دارد، اين کشور اگر بخواهد می تواند، در راستای تأمين صلح در کشورما نقش مهمی داشته باشد که متأسفانه تاکنون کمتر کاری در اين زمينه کرده است.

دولت افغانستان و متحدانش بايد بر دولت های پاکستان و عربستان فشار وارد سازند، تا به تعهدات شان در قبال صلح در افغانستان که همواره از جامعهٔ جهانی امتياز گرفته اند، صادقانه عمل نمايند.

شيوخ عرب هم بايد بدانند که حمايت آنان از طالبان ظلمی است که آنان به حق مردم افغانستان می کنند و بهتر است به جای حمايت مالی از طالبان، به مردم محروم فلسطين و ديگر کشورهای فقير اسلامی کمک کنند، تا بيشتر از اين نزد خدا و ملت های اسلامی شرمنده نباشند.

۴- گروه طالبان در واکنش به تشکيل اين شورا با نشر اعلاميه يی بار ديگر به اين پروسه جواب رد گفتند. ملا محمدعمررهبر گروه طالبان گفته است، تشکيل اين شورا کار بيهوده يی است. اين واکنش طالبان کار شورای صلح را مشکل تر کرده است و بايد اين شورا برای موافقت افراد طالبان با برنامه های دولت، ميکانيزمی جديد و سازنده يی را دنبال کند. ميکانيزمی را که کميسيون تحکيم صلح دنبال کرده ناکارا بوده و شورای عالی صلح بايد با توجه به اين ناکامی، راه کميسيون نامبرده را نپيمايد.

د خواجه غار په ښته کې د طالبانو...

بريد کړی و. هغه زياته کړه، چې په سيمه کې سخته جګړه وشوه او د څو ساعتونو لپاره يې ادامه لرله. دی وايي، چې په خپله يې په سيمه کې د طالبانو مړي او ټپيان ليدلي دي. وسلوالو طالبانو تراوسه په دې اړه څه نه دي ويلي.

تنها نامزدان حامی دولت به دور...

زمينه مثبت می دانند، مدعی اند که تعداد زيادی از وکلای برحال، که در برخی موارد با حکومت به شدت مخالفت کرده اند، به دور جديد ولسی جرگه راه نخواهند يافت. صبرينا ثاقب نمايندهٔ مردم کابل در ولسی جرگه که به دور جديد ولسی جرگه خود را نامزد نکرده است، حمايت دولت را از يک تعداد نامزدانی که در جريان کمپاين انتخاباتی، از امکانات دولتی استفاده می نمودند، از جمله دلايلی خواند که باعث عدم پيروزی يک تعداد از وکلای برحال ولسی جرگه خواهد شد. به اساس گفته های ثاقب، اگر حمايت مقام های دولتی از يکتعداد نامزدان ولسی جرگه در جريان انتخابات صورت نمی گرفت، يقيناً شمار زيادی از وکلای پارلمان به دور دوم ولسی جرگه راه می يافتند. با اين حال، نتايج قسمی ابتدايی ولسی جرگه که توسط کميسيون مستقل انتخابات به نشر رسيده است، نشان می دهد که شماراندکی از وکلای فعلی پارلمان، در لست برنده گان احتمالی اين نتايج، ديده می شوند. به اساس اين آمار که به شمول کابل از ۲۰ ولايت کشور به نشر رسيده است؛ چهره هايی چون عبدالستار خواصی از پروان، سردارمحمد رحمن اوغلی از فار ياب، حاجی فريد از کاپيسا، حبيبه دانش از تخار، عبدالقادر امامی غوری از فارياب، معين مرستيال از کندز و نامزدانی چون قدريه يزدان پرست، شهلا عطا، ملالی شينواری، انجنير محمدخان، انجنيرعباس نويان، صالح محمد ريگستانی، سيد داود هاشمی، سيد محمد گلا ب زوی، ميراحمد جوينده، داکترکبير رنجبر، داکتر فضل الله مجددی، نجيب الله کابلی، جميل کرزی وسيد حسين عالمی بلخی از ولايت کابل، درجمع برنده گان دور جديد شامل نتايج قسمی ابتدايی ولسی جرگه نيستند. در عين زمان حاجی فريد وکيل ولايت کاپيسا و نامزد دور جديد ازاين ولايت که نامش در جدول نتايج قسمی ابتدايی انتخابات ولسی جرگه به نظرنمی رسد، در مصاحبه با آژانس خبری پژواک، احتمال باخت خود را در انتخابات ولسی جرگه رد نمی کند. وی گفت که دليل اين کار، موجوديت تقلب در انتخابات و حمايت حکومت از نامزدان مشخص است. حاجی فريد، درحاليکه از ارگان مشخص حکومتی و يا هم نامزد مشخصی در اين زمينه نام نبرد، گفت: "به نظرمن، پيروزی افرادی که در دور قبلی پارلمان، با جديت عمل نموده اند و حقايق را بيان کرده اند، بسيار اندک است." همچنان سردار محمد رحمن اوغلی وکيل ولايت فارياب و نامزد دور جديد ازاين ولايت، نقش پول و تفنگ را نسبت به رای مردم در انتخابات موثرتر می داند. اوغلی به پژواک گفت: "تفنگ زورمندان و پول، در انتخابات پارلمانی نقش اساسی را ايفا نموده است."

ACKU

خبرتیا

افغانستان اسلامي جمهوریت
ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

آگاهی

د رڼو ټاکنو د ترسره کیدو په موخه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ټاکنیزو سرغړونو په برخه کې تول شکایتونه څېړي.

ټاکنیزې سرغړونې لکه د رایو شمېرل د ټاکنو په قانون او د رایې د شمیرولو په لارښود کې په ښکاره توګه ذکر شوي دي. او هر کله چې داسې سرغړونې ولیدل شي، نو د سرغړونکي سره به تر څېړنو وروسته قانوني چلندوشي.

د ټاکنو د قانون د ۶۳ مادې پر بنسټ دغه لاندې توکي سرغړونې شمیرل کیږي.

۴ بند: د رایې ورکولو او رایې شمیرلو پر مهال درغلي

۸ بند: د ټاکنیزو سندونو بدلون، تغییر، پټول او یا د قانوني جواز پرته ددې اسنادو ورکول.

۱۲ بند: دلازم واک پرته په ټاکنیزو موادو او د رایې ورکولو په صندوقونو کې ګډون او دخالت

۱۳ بند: - د دندې د ترسره کولو په بهیر کې د ټاکنیزو مامورینو په کارونو کې اخلال.

۱۷ بند: په ټاکنو کې د درغلیو په موخه د نورو خلکو هڅول.

د رایو د شمیرلو لارښود:

دریمه ماده: د سیمو په کچه د رایو شمیرل، په هغو مرکزونو کې چې د کمیسیون له لوري مخکې له مخکې ټاکل شوي وي تر سره کیږي.

پنځمه ماده:

۱-د رایې ورکونې له بهیر څخه وروسته، رایې، د رایې ورکونې د مرکز د کارکونکو له لوري د نومورې مرکز د مشر تر څار لاندې شمیرل کیږي.

۲-دمرکز مشر د کمیسیون د تصویب شوي طرزالعمل مطابق، د رایې د شمیرلو او د شمیرلو د کره بهیر د تطبیقولو مسوولیت لري.

اوومه ماده:

د رایې د شمیرلو په ځایونو کې هیڅ څوک د اوسیدو اجازه نه لري، پرته له دغو کسانو؛

۱--د کمیسیون غړي.

۲--د رایې ورکونې په مرکزونو کې موظف کارکونکي او د کمیسیون د دارالانشا له لوري ټاکل شوي کارکونکي.

۳--د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون استازي.

۴--څارونکي، لیدونکي او د رسنیو استازي چې اعتبار لیکونه لري.

۵-د کمیسیون له لوري معرفي شوي ځانګړي میلمانه.

۱۲ مه ماده:

د ټاکنو ولایتي آمرین هغه خریطې چې په کې د رایو د پایلو اړوند بیلابیل فورمونه دي د بشپړوالي او کره والي د ډاډ د ترلاسه کولو وروسته د کابل د ملي پایلو مرکز ته استوي.

ګرانو هیوادوالو!

هیله ده چې د عادلانه ټاکنو د تر سره کولو په موخه د یادو شویو سرغړونو د لیدو پر وخت، په کابل کې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون مرکزي دفتر او یا د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د ټاکنیزو شکایتونو د ولایتي کمیسیونونو سره یې شریکې کړئ. او یا هم د لاندني شمیرې سره اړیکه ونیسئ.

داړیکې شمیره:
۰۷۹۸۳۴۰۱۳۱

پاکستان که ایران؟

داکتر محب زغم



پر ۱۹۹۴ کال د کراچۍ په یوه اخبار کې د یوې مقالې مضمون داسې و: د افغانستان په جهاد کې خوارۍ موږ وکړې؛ خو زموږ د بې پروایۍ په وجه اوس یې ګټه ایران ته رسیږي.

دا هغه وخت و، چې په کابل کې د تنظیمي جګړو په اور د استاد رباني د حکومت ډوډۍ پخېدله. د رباني حکومت له هند، ایران او روسیې سره ډېر نژدې اړیکي پالل او له پاکستان سره یې دښمني کوله. له یادې مقالې څخه دا اټکل کولای شو، چې پاکستان د افغانستان پر حکومت باندې نفوذ خپل مشروع حق باله او لا یې هم بولي.

له بلې خوا ایران هم د سیمې د لالاتوب دعوا لري. تېره اونۍ چې زموږ ولسمشر پښتو ژبه تر پښو لاندې کړه او د پارسي ژبو هېوادونو د ولسمشرانو په غونډه کې یې ګډون وکړ، هلته ایراني ولسمشر احمدي نژاد وویل، ایران حاضر دی، چې د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته په افغانستان کې په امنیتي چارو کې د هغوی ځای ونیسي. هغه تاجکستان ته هم دغه وړاندیز وکړ. د ده په وینا تاجکستان، چې نوي د روسیې له استعماره ازاد شوي، د خپل امنیت د ساتلو وس نه لري او باید له ایرانه مرسته وغواړي.

په دې ورستیو کې یو نیم غربي سیاستوال او ځینې پوځیان د افغانستان په جګړه کې بري ته د شک په ستر ګه ګوري او دغه احتمال ډېر لیدل کېږي، چې نړیوال ځواکونه مو له هېواده پښې سپکې کړي؛ نو افغانانو ته څه کول په کار دي؟

موږ د تاجکستان د خلکو په شان هوښیار نه یو، چې د پردیو په شعارونو ونه غولېږو او خپل وطن برباد نه کړو. تاجکستان چې له شوروي څخه ازاد شو، هلته هم ځینو کسانو د جهاد شوق وکړ، دوی د افغانستان شمالي ولایتونو ته مهاجر شول. زموږ مېلمه پالو هېوادوالو د هغوی ښځې وتښتولې، مال یې لوټ کړ او ان یې پر هلکانو هم صرفه ونه کړه. همدا وو چې دوی بېرته خپل هېواد ته ستانه شول او له خپل حکومت سره یې روغه وکړه. بیا وروسته به که چا ورنه د جهاد پوښتنه وکړه، دوی به ویل، چې ((این چه خبل جهاد است که پس ادم را میکاوند))

که موږ افغانان په خپلو کې سره جوړ شو، د هېچا کرم ته به ضرورت ونه لرو؛ خو بد مرغي مو دا ده چې موږ د نفاق د پیر مریدان یو. اوس به راشو دې ته چې د پاڼ او پړانګ تر منځ کوم یو غوره کړو؟

۳مخ

کنوانسیون حقوق اطفال
دوه دیرشمه ماده: دولتونه باید د کار لپاره عمر وټاکي او هیڅوک حق نه لري ماشومان په زوره دهغه کار کارکولوته اړباسي چې د هغوی وده او روغتیا په خطر کې اچوي.
مادهٔ سی و دوم: دولت ها باید سن کار را تعیین کنند وهیچ کس حق ندارد اطفال را مجبور به کاری کند که رشد و سلامت آنان را به خطر می اندازد.
این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: - ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: - ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: - ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com